د ښځې د احکامو په باره کې څلویښت حدیثونه

تألیف : **محمد بن شاکر الشریف**

ژباړه : حمدالله شاکری

خپرونه : آن لاین اسلامي لارښود

www.dawat610.com

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين

د ښځې د احکامو په باره کې څلویښت حدیثونه

۱- د ښځې د پاره پخپل کور کې پاتې کیدل غوره دي تربیرون وتلو څخه حتې که جومات ته هم وي

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چه فرمايي: «لا تمنعوا نساءكم المساجد، وبيوتهن خير لهن» (أبو داود وابن خزيمة).

ژباړه: تاسې خپلې ښځې له جومات څخه مه منع کوئ، مګر د دوی کورونه (د لمانځه د ادا کولو د پاره) غوره دي (زيات ثواب لري نسبت جومات ته).

تشریح: په دور نبوت کې ښځې جومات ته تللی وروسته د خلفاء راشدینو په دور کې د فتنې له وجې منع شوې (فتاوي دارالعلوم دیوبند ج ۱ ص ۱۶۸).

۲- ښځې ته د ضرورت په وخت کې بیرون ته وتل جایز دي

عائشه رضي الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «قد أُذن أن تخرجن في حاجتكن» (متفق عليه).

ژباړه: د ضرورت د پاره تاسې ته د کور نه د باندې وتلو اجازت شته.

۳- د ښځې وتل د کور نه د باندې د فتنې سبب ګرځي

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه و سلم نه روايت کوي چه فرمايي: «إنَّ المرأة عورة فإذا خرجت استشرفها الشيطان، وأقرب ما تكون من وجه ربها وهي في مقر بيتها» (صحيح الترمذي وابن خزيمة، وابن حبان).

ژباړه: ښځه عورت ده، او کله چې د کور څخه بيرون وځي شيطان هغې ته زينت او ښايست ورکوي، او الله تعالى ته د نږدې کيدو تر ټولو غوره ځای کور کې پاتې کيدل دي.

استشرفها الشيطان :هغه د خلکو په نظر کې ښايسته ور ولي تر څو هغې ته نظر وکړي تر څو هغوی فاسد کړي.

۴- ښځه به د خاوند د اجازې نه بغيرله کور څخه بيرون نه وځي

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«ولا تخرج من بيته إلا بإذنه فإن فعلت لعنتها الملائكة ملائكة الغضب والرحمة حتى تتوب أو تراجع»

ژباړه: ښځه به د کور څخه د سرپرست د اجازې پرته نه وځي ، که داسې وکړي نو په هغې باندې د رحمت او غضب ملائکې لعنت وايي ، تر هغه پورې څو توبه وباسي او له دې کار لاس واخلي .

د اسلامي شريعت په دې حکم کې د ښځې لپاره زيات مصلحتونه نغښتې دي .

۵- د بيرون وتلو په وخت د ښځې د پاره د خوشبويې استعمال منع دی

أبو موسى أشعري رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إذا استعطرت المرأة فمرت على القوم ليجدوا ريحها فهي كذا وكذا، قال قولاً شديداً، وفي لفظ: فهي زانية »(حسن صحيح أخرجه أبو داود والترمذي والنسائي).

ژباړه: کله چه ښځه خوشبويي ووهي او د سړيو له ډلې تيريږي تر څو د هغې دغه ښه بوی خلک حس کړي، پس هغه داسې او هغسې ده، ډيره سخته او شديده وينا او په بل لفظ پس هغه زناکاره ده.

۶- بيگانه خلکو ته د سينګار او ښايست ښکاره کول حرام دي

له فضاله بن عبيد رضي الله عنه څخه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «ثلاثة لا تسأل عنهم :رجل فارق الجماعة وعصى إمامه فمات عاصياً، وأمة أو عبد أبق من سيده فمات، وامرأة غاب عنها زوجها وقد كفاها مؤونة الدنيا فتبرجت بعده، فلا تسأل عنهم» (صحيح، أخرجه أحمد والبخاري في الأدب المفرد والحاكم).

ژباړه: د دريو تنو په باب پوښتنه مه کوه (چه عذاب يې ډير سخت او دردونکی دی) يو هغه سړی چې د مسلمانانو جماعت ترک کړي او د خپل (شرعي) امام او سرپرست څخه نا فرماني وکړي او په همدې حالت کې مړ شي، او هغه مينځه او غلام چې د خپل بادار نه تښتيدلی وي او په همدې حالت کې مړه شي، او هغه ښځه چې خاوند يې غايب وي (چيرې په سفر تللی وي) خو دې ته يې د ژوند ټول سهولتونه برابر کړي وي خو هغه په دې حالت کې تبرج کوي پس په دې باره کې سوال مه کوه چېددی کسانو عذاب دردناک او سخت دی.

تبرج: بيگانه خلکو ته د سيګار ښکارول.

۷- د نامحرم سره د ښځې سفر حرام دی

له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «لا تسافر المرأة إلاَّ مع ذي محرم، ولا يدخل عليها رجل إلاَّ ومعها محرم، فقال رجل: يا

رسول الله إنّي أريد أن أخرج في جيش كذا وكذا، وامرأتي تريد الحج، فقال: اخرج معها» (متفق عليه).

ژباړه: هیڅ ښځه دې بدون له محرم څخه سفر نه کوي او هیڅ بیګانه سړی به د بیګانه ښځې سره خلوت نه کوي، مګر چې له هغې سره محرم وي، یو صحابي رضی الله عنه وویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! زه غواړم د فلانې د فوځ سره جنګ ته لاړ شم، او ښځه مې غواړي حج ته لاړه شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له خپلې ښځې سره دې حج ته لاړ شه.

۸- په جوماتو کې باید د ښځو د پاره جلا دروازه وي

نافع له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چه فرمایي: «لو تركنا هذا الباب للنساء، قال نافع: فلم يدخل منه ابن عمر حتى مات »(حسن أخرجه أبو داود).

ژباړه: که مو دغه دروازه یوازې د ښځو د پاره پریښې وای، نافع وایي: ابن عمر وروسته له دې خبرې تر مرګه له هغه دروازې داخل نه شو.

۹- د ښځو د پاره د لارې په وسط کې تلل جایزنه دي

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «استأخرن فإنَّه ليس لكن أن تحققن الطريق، عليكم بحافات الطريق» (حسن أخرجه أبو داود).

ژباړه: ای ښځو! د لارې یو څنګ ته ځئ، تاسې د پاره د لارې په وسط کې تلل جایز نه دي، تاسې باید د لارې او سرک په غاړه لاړې شئ.

۱۰- ښځې به د نارینه د اختلاط نه بغیر طواف کوي

عن ابن جريج قال أخبرني عطاء. إذ منع ابن هشام النساء الطواف مع الرجال. قال: كيف يمنعهن وقد طاف نساء النبي –صلى الله عليه وسلم- مع الرجال؟ قلت: أبعد الحجاب أو قبل؟ قال: أي لعمري لقد أدركته بعد الحجاب، قلت: كيف يخالطن الرجال؟ قال: لم يكن يخالطن، كانت عائشة رضي الله عنها- تطوف حجرة من الرجال لا تخالطهم (البخاري).

ژباړه: (عبدالملک) ابن هشام د خپلې مشرۍ په دور کی ښځې د سړیو سره د یو ځای طواف کولو څخه منع کړې، چا وویل: څنګه هغوی منع کوي حال دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو به د نارینوو سره یو ځای طواف کولو؟ ومې ویل: دا واقعه د حجاب د فرض کیدو وروسته وه یا مخکې؟ ویې ویل: ای والله ما دا د حجاب له فرض کیدو وروسته ولیده، ومې ویل: څنګه له نارینوو سره یې اختلاط کولو؟ ویی ویل: نه له نارینوو سره یې اختلاط نه کولو عایشه رضی الله عنها د سړیو له یو طرف نه طواف کولو او له هغوی (نارینه) سره یې اختلاط نه کولو.

۱۱- نارینه به له نامحرمو ښځو سره اختلاط (ګډون) نه کوي

دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «إياكم والدخول على النساء، فقال رجل من الأنصار: يا رسول الله أفرأيت الحمو؟ قال: الحمو الموت» (متفق علیه).

ژباړه: د بیګانه ښځو د خلوت نه ځان وساتئ، یوه سړي له انصارو وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د لېور (د ښځې د خاوند ورور) په باره کې مونږ ته خبره کړه؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لېور مرګ دی.

۱۲- د ښځو د ناستي ځای او درسي ټولګي به له نارینوو نه جلا وي

أبو هريره رضي الله عنه روايت کوي چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته ښځې راغلې او ویې ویل : «يا رسول الله ما نقدر عليك في مجلسك من الرجال، فواعدنا منك يوماً نأتيك، فقال: موعدكن بيت فلان، وأتاهن في ذلك اليوم ولذلك الموعد قال: فكان مما قال لهن يعني ما من امرأة تقدم ثلاثاً من الولد تحتسبهن إلاَّ دخلت الجنة، فقالت امرأة منهن: أو اثنان قال: أو اثنان» (صحيح، أخرجه أحمد وابن حبان).

ژباړه: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! مونږ نشو کولای د نارینوو په مجلس کې کېوون وکړو، نو زمونږ د پاره د یوې ورځې وعده وکړه تر څو په هغه ورځ مونږ تاته راشو (د درس د پاره)،رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ستاسو وعده د فلاني په کور کې، او په همغه تعین شوی ورځ راغی او هغه څه چه ښځو ته یې وفرمایل دغه حدیث وه: هیڅ داسې ښځه به نه وي چې هغې درې ځامن له لاسه نه وي ورکړي (وفات شوی وي) او اجر او عوض له الله تعالی څخه وغواړي مګر جنت ته داخله شي،یوې ښځې وویل: که دوه ځامن وي؟ ویې فرمایل: که دوه هم وي (همدا اجر لري).

۱۳- جنازه به نارینه نقلوي نه ښځې

أبو سيعد الخدري رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«إذا وضعت الجنازة واحتملها الرجال على أعناقهم فإن كانت صالحة قال: قدموني، وإن كانت غير صالحة قالت: يا ويلها أين يذهبون بها؟ يسمع صوتها كل شيء إلاَّ الإنسان ولو سمعه لصعق» (البخارى).

ژباړه: کله چه جنازه (د کفن کولو نه پس) کیښودل شي او هغه نارینه په خپلو اږو وړي،که نیک سړی وي وايي:ما په بیړه یوسي او که بد سړي وي وايي: وای وای ما چیرته وړي دغه آواز به بغیر له انسان څخه نور ټول څیزونه آروي او کچیرې انسان د غه غږ واروي بې هوشه به شي.

۱۴- د ښځې تګ عمومې حمام ته منع دی

د أبوالمليح الهذلي نه روايت دی چه د (حمص) د ښار څنو ښځو بی بی عايشې رضی الله عنها ته د ورتګ اجازه وغوښته. عائشه رضی الله عنها ووِیل: کیدای شي تاسې له هغو کسانو څخه وئ چې عمومې حمامو ته ننوځي.

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اوریدلی چې فرمایل یې: «أيما امرأة وضعت ثيابها في غير بيت زوجها فقد هتكت ستر ما بينها وبين الله» (صحيح أخرجه الترمذي وابن ماجه).

یعنې: هرې ښځې چې د خاوند د کور نه بغیر بل ځای خپلې جامې ویستلې یقیناً هغې د خپل ځان او خدای جل جلاله تر منځ پرده څیرې کړې ده.

حمص: اوس مهال د سوریه هیواد یو ښار دی.

۱۵- د ښځې د بلی ښځې سره لوڅ بدن یا کوم اندام نیښلول منع دي

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت كوي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

«لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها، كأنَّه ينظر إليها» (البخاري).

ژباړه: ښځه به د بلې ښځې سره لوڅ بدن يا کوم اندام نه نښلوي او د هغې صفت به خپل خاوند ته نه بيانوي ګواکې دا داسې دی لکه خاوند یې چې د هغې ښځې طرف ته نظر کوي.

۱۶- د بيګانه خلکو سره د ښځې خبرې کول منع دي مګر په وخت د ضرورت کې

أبو هريره رضي الله عنه روايت كوي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

«التسبيح للرجال، والتصفيق للنساء» (متفق عليه).

ژباړه: د سړيو د پاره تسبيح ويل او د ښځو د پاره لاسونه ټکول دي.

دا موضوع په لمانځه کې ده چې کله امام سهوه شي نارينه به وايي (سبحان الله) او ښځې به دواړه لاسونه سره ووهي.

نو چه په لمانځه کې داسې ده نو د لمانځه نه بيرون به طريقه اولی دا حکم دی بغير له ضرورت څخه.

۱۷- د چا د وفات په وخت کې نياحت کول حرام دي اوژړا کول جايز دي

أم عطيه رضي الله عنها روايت کوي چه: «أخذ علينا النبي صلی الله علیه وسلم عند البيعة أن لا ننوح، فما وفَّت منّا امرأة غير خمس نسوة» (متفق عليه).

ژباړه: جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ سره د بيعت په وخت کې دا عهد او پيمان وتړلو چې په وفات شوي کس به (نياحت) نه کوو، د پنځو ښځو نه بغير نورو ښځو په دې عهد وفا ونه کړه.

النياحت: په چغو چغو ژړل، د جامو او ويښتانو څيرول او داسې نور.

۱۸- د نارينه سلام اچول ښځې ته او د ښځې سړي ته په هغه صورت کې جايزدی چه د فتنې ويره نه وي

أسماء بنت أبي بکر رضي الله عنها روايت کوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ټولې د ښځو ته چې په جومات کې ناستي وي د لاس په اشاره سلام واچولو او ويې فرمايل :«إياكن وكفران المنعمين، إياكن وكفران المنعمين» (أحمد وأبوداود، والترمذي).

ژباړه: د خدای په نعمت له کفران کولو ځان وساتئ او دا کلمات يې دوه ځله تکرار کړل.

وكفران المنعمين: دې ته وايي چه ښځه د خپل خاوند په باره کې ووايي چه پر خدای سوګند چه له هغه نه مې يو ساعت هم خير نه دی ليدلی يعنې بغير له کوم دليل پخپل خاوند باندې نا شکري کوي .

۱۹- د ضرورت په وخت کې د ښځې خبرې کول جايزدي

أنس رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم له يوې ښځې چې پر قبر ولاړه وه ژړل يې تيردلو هغې ته يې وفرمايل:«اتقي الله واصبري» (متفق عليه).

ژباړه: تقوا اختيار کړه (له الله څخه وويرېږه) او صبر کوه.

۲۰- ښځې ته دا رواه ده چې کوم ښه او صالح کس ته د نکاح درخواست وړاندې کړي

أنس رضي الله عنه روايت كوي چه :«جاءت امرأة إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم تعرض عليه نفسها، قالت: يا رسول الله ألك إلي حاجة؟ فقالت: بنت أنس: ما أقل حياءها واسوأتاه، قال: هي خير منك، رغبت في النبي صلى الله عليه وسلم- فعرضت عليه نفسها» (البخاري).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يوه ښځه راغله او نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته يې د نکاح عرض وکړ او ويې ويل: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم آيا ما سره نکاح کول غواړې؟

د انس رضی الله عنه لور وويل وای دا څومره بې حيا ښځه ده، انس رضی الله عنه د خپلې لور په ځواب کې وويل: دا ښځه له تا ځخه غوره ده هغې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره د نكاح كولو هيله او آرزو لرله او خپله يې هغه ته د نكاح درخواست وکړ.

۲۱- جبراً د ښځې نکاح کول جايزنه دي

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت كوي چه: «أنَّ جارية بكراً أتت النبي –صلى الله عليه وسلم -فذكرت أنَّ أباها زوجها وهي كارهة، فخيّرها النبي –صلى الله عليه وسلم »(ابوداود و ابن ماجه).

ژباړه: يوې پيغلې نجلې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور کې عرض وکړ چه: پلار مې يو کس ته واده کړې يمه چې هغه مې خوښ نه دی،رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه په خپل اختيار پريښوده.

يعنی هغې ته يې اختيار ورکړ که ژوند ورسره تيروي او که يې ترک کوئ.

۲۲- د ولي اوسرپرست د اجازې پرته نکاح باطله ده

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : « لا نكاح إلا بولي » رواه أبو داود (٢٠٨٥) والترمذي (١١٠١) وابن ماجه (١٨٨١)

ژباړه: د ولی د اجازې نه بغیر نکاح نه صحي کیږي .

او همدارنګه فرمایي : « أيما امرأة نكحت بغير إذن وليها فنكاحها باطل ، فنكاحها باطل ، فنكاحها باطل » رواه أحمد (٢٤٤١٧) وأبو داود (٢٠٨٣) والترمذي (١١٠٢) في صحيح الجامع برقم (٢٧٠٩).

ژباړه : کومې ښځې چې د ولی د اجازې پرته نکاح وکړه ، نکاح يې باطله ده ، نکاح باطله ده ، نکاح باطله ده .

د واده نه مخکې د بيګانه ښځې يا هلک سره ارتباطات ، اختلاط ، خبرې ، ملګري او مينه کول حرام دي ، لقوله سبحانه وتعالى : [وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى] .

يعنې: زنا ته مه نږدې کيږئ ، د زنا د نږدېوالی اسباب د بيګانه ښځو سره نا مشروع ارتباطات ، اختلاط او بې حجابې ده .

په ټولنه کې ددې نامشروع ارتباطات ثمره کله داسې هم شي چې نجلی پخپل سر باندې هلک ته ور وتښتي او بيا پخپلو کې سره نکاح وکړي چې مونږ دواړه سره جوړ يو او په دې نکاح کې د ولي هيڅ اجازه نه وي ، يا دا چې کوم لوپر له ځانه سره نجلی تښتوي قوم او کورنی ته لوی سپکاوی جوړ شي او بيا د ولی د اجازې بغير پخپل منيځ کې نکاح کوي .

د جمهورو فقهاوو په نزد د دوی نکاح باطله ده.

۲۳- ښځه به د خپل خاوند اطاعت کوي

«عَن اَنسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلَّى اللَّهُ عَليهِ وسلَّم اَلْمَرْأة اِذَا صَلَّتْ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَاَحْصَنَتْ فَرْجَهَا وَاَطَاعَتْ بَعْلَهَا فَلْتَدْخُلْ مِنْ اَيِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ» (رواه ابو نعیم فی الحلیة).

ژباړه: د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:کومه ښځه چه پنځه وخته لمونځ کوي،او د رمضان روژه نیسي او د خپل عزت او حیا حفاظت کوی او د خپل خاوند اطاعت کوي نو دهغې خوښه ده چې له کومې دروازې غواړي جنت ته دې ننوځي.

همدارنګه فرمايي:«أيُّما امرأةٍ ماتتْ وزوجُها عنها راضٍ، دخلتْ الجنَّةَ» (۱۱۷۱ الترمذي، حديث حسن غريب).

يعنې: کومه ښځه چه پداسې حال کې وفات شئ چې خاوند یې ترې راضي وي نو هغه به جنت ته داخله شي.

۲۴- ښځې ته د کوم شرعي عذرپرته د خلع یا طلاق غوښتل حرام دی

ثوبان رضي الله عنه روايت کوي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:«أيما امرأة سألت زوجها الطلاق في غير ما بأس، فحرام عليها رائحة الجنّة» (صحيح رواه اصحاب السنن).

ژباړه: هره ښځه چه د کوم عذر او سبب نه پرته له خپل خاوند څخه طلاق وغواړي په هغې د جنت بوی حرام دی.

۲۵- د واده په وخت کې د کوچنیو نجونو د پاره سندرې او دائره وهل جایز دي

ربیع بنت معوذ روایت کوي چې: «جاء النبي صلى الله عليه وسلم يدخل حين بُني عليّ، فجلس على فراشي كمجلسك مني، فجعلت جويريات لنا يضربن بالدف ويندبن من قتل من آبائي يوم بدر إذ قالت إحداهن » (البخاري).

ژباړه: کله مې چه واده وکړ نبی صلی الله علیه وسلم راغې او په فرش باندې داسې لکه ته چې ناست یې کیناست،د انصارو ځنو وړو نجونو دائره وهلو او د خپلو پلرونو کوم چه د بدر په ورځ مړه شوی وو مرثیه ویلې...

تشریح: په واده کې د نجونو دائره وهل روا دي تر څو خلک په نکاح باندې خبر شي مګر نن ورځ چه په ودونو کې موسیقي رواج لري هغه له هیڅا هم پته نه ده او د ننۍ موسیقۍ په اړه هم علماء کرامو ډیر کتابونه لیکلي دي چه د هغه بیان دلته نا ممکن دی.

خو نن ورځ داسې کسان هم شته چې ننۍ موسیقۍ ته د جواز لارې برابروي او دغه ستره بلا چه د یوې ټولنې د اخلاقي زوال سبب ګرځي د ګناه په سترګه نه ګوري.

رسول الله صلی الله فرمایي: «لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ، وَالْحَرِيرَ، وَالْخَمْرَ، وَالْمَعَازِفَ... » (البخاري)

ژباړه: یقیناً زما په امت کې به داسې کسان پیدا شي چې دوی به د زنا فاحش عمل،ابریشم،شراب،ساز او موسیقي حلال بولي.

او داسې کسانو ته د خسف او مسخې خبرداری :

«يكون في أمتي قذف ومسخ وخسف ، قيل يا رسول الله: ومتى ذلك؟ قال: إذا ظهرت المعازف وكثرت القيان وشربت الخمور» (رواه الترمذي في الجامع و ابن ابى الدنيا في ذم الملاهي).

ژباړه: زما په امت کې به ، مسخ (شکل بدليدل) ، خسف (په ځمکې کې غرقيدل) را مينځته شي . چا پوښتنه وکړه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم کله به دا را مينځته کيږي ؟ ويې فرمايل : کله چې موسيقي ظاهره او ښکاره شي ، سينګار ډير شي او شراب څښل کيږي.

د علم حديث د علماؤ په نزد «يكون» دوې معناوې لري ، دا چې دغه ګناهونه حلال وګڼې ، او يا دا چې دغه ګناهونه داسې ښکاره او ظاهر شي چې نه څوک پرې شرميږي او نه يې څوک منع کوي.

په اوس عصر کې همداسې ده ، اللهم سلم سلم.

۲۶- د خاوند حق پرخپل بی بی زیات دی

له عبدالله بن أبي أوفى رضي الله عنه نه روايت دی چې: رسول الله –صلى الله عليه وسلم- فرمايي: «لو كنت آمراً أحداً أن يسجد لغير الله، لأمرت المرأة أن تسجد لزوجها، والذي نفس محمد بيده لا تؤدي المرأة حق ربها حتى تؤدي حق زوجها، ولو سألها نفسها وهي على قتب لم تمنعه» (ابن ماجه و ابن حبان).

ژباړه: که مې دا امر کولای چې يو کس دې بغير له الله څخه بل چا ته سجده وکړي،نو ښځې ته به مې امر کړې وای چې خپل خاوند ته سجده وکړي،قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په واک کې دی ښځه به تر هغه پورې د خدای حق ادا نه کړي څو پورې چې د خپل خاوند حق ادا نه کړي،که خاوند له خپلې بی بی څخه څه شی وغواړي ولو که هغه د اوښ د زين په سر هم وي هغه بايد قبول کړي او دهغه منع ونه کړي.

۲۷- کوم ښځه چې د خپل خاوند بستره ترک کړي فرښتې په هغې باندې لعنت وايي

د ابی هريره رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:«إذا باتت المرأة مهاجرة فراش زوجها، لعنتها الملائكة حتى ترجع» (متفق عليه).

ژباړه: کله چې کومه ښځه د خاوند بستره (کورواله) ترک کړي فرښتې تر هغه پورېورباندې لعنت وايي تر څو بيرته بسترې ته ورشی.

۲۸- د خاوند په نعمتونو کفران کول سخته ګناه ده

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت کوي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «أُريت النار، فإذا أكثر أهلها النساء، يكفرن قيل: أيكفرن بالله؟ قال: يكفرن العشير، ويكفرن الإحسان، لو أحسنت إلى إحداهن الدهر ثم رأتْ منك شيئاً قالت: ما رأيت منك خيراً قط» (متفق عليه).

ژباړه: ما ته د دوزخ اور وښودل شو ومې ليدل چې زياته برخه د هغې ښځې وې،ځکه چې هغوی کفر اختياروي، چا وويل، پر الله کفر اختياروي؟ ويې فرمايل: په خپل خاوند کفر

اختياروي،په احسان کفر اختياوي،کچيرې يو له هغې سره يوه دنيا نيکی او ښيګڼې وکړې نو کچيرې يوه غلطی او بدی له تا څخه ووينې نو وايي به چې هيڅکله مې له تا نه خير ونه ليدلو.

۲۹- که خاوند ښځې ته په ګناه امروکړي ښځې ته د هغه قبلول جايزنه دي

له عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی چه: «أنَّ امرأة من الأنصار زوَّجت ابنتها، فتمعط شعر رأسها، فجاءت إلى النبي –صلى الله عليه وسلم- فذكرت ذلك له، فقالت: إنَّ زوجها أمرني أن أصل في شعرها، فقال: لا، إنَّه قد لُعن الموصلات» (متفق عليه).

ژباړه: يوې انصاري ښځې خپله لور د يو کس سره د واده د پاره له خپل کور څخه را ويستله او (دغه وخت د نجلی) له سر څخه ويښتان ولوېدل او (د نجلی مور) پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته راغله او نوموړی واقع يې هغه ته بيان کړه چه: زما خاوند ماته امر کړی ؤ چې هغې ته نور ويښتان ولګوه،آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمايل: داسې مه کوه ځکه چې د ويښتانو په وصل کوونکو باندې د الله تعالی لعنت دی.

او همدارنګه د اسلامي شريعت عامه قاعده ده چې: د الله تعالی په نافرمانی کې د مخلوق حکم منل نشته.

۳۰- ښځې ته جايزنه ده چې له خپل مال څخه هديه ورکړي مګرد خاوند په اجازه

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «لا يجوز للمرأة أمر في مالها إذا ملك زوجها عصمتها» (أحمد،الحاکم و النسائي) .

ژباړه: کله چې ښځه خاوند وکړي هغې ته جایز نه ده چې له خپل مال څخه هدیه ورکړي مګر د خاوند په اجازه.

۳۱- ښځې ته د خپل خاوند خدمت کول او د هغو کسانو خدمت کوم چې سرپرستي یې د خاوند پر غاړه وي

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وايي: «هلك أبي وترك سبع بنات أو تسع، فتزوجت امرأة ثيباً فقال لي رسول الله –صلى الله عليه وسلم-: تزوجت يا جابر؟ فقلت: نعم، فقال: بكراً أم ثيباً؟ قلت: بل ثيباً، قال: فهلاّ جارية تلاعبها وتلاعبك، وتضاحكها وتضاحكك؟ قال: فقلت له: إنَّ عبدالله هلك وترك بنات، وإنّي كرهت أن أجيئهن بمثلهن، فتزوجت امرأة تقوم عليهن وتصلحهن، فقال: بارك الله لك، أو خيراً» (متفق عليه)

ژباړه: پلار مې وفات شو او اوه لوڼې ورڅخه پاتې شوې او ما د یوې کونډې ښځې سره واده وکړ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته وویل: ای جابره! آیا واده دې کړی دی؟ ومې ویل هو، آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمایل: له باکره (پیغلې) سره او که له ثیبه (کونډې) سره، ومې ویل له کونډې سره، ویې فرمایل: آیا له نجلی سره دې واده نه دی کړی چې د هغې سره دې شوخي کولی او هغې ستا سره شوخي کولی تا د هغې سره خندلی او هغې ستا سره خندلی، ومې ویل عبدالله (پلار) مې وفات شو اوه لوڼې یې پر ځای پاتې شوې دا مې ښه نه بلله چې د هغوی په شان نجلی سره واده وکړم، نو د داسې ښځې سره مې واده وکړ چې د هغوی سرپرستي پر غاړه واخلي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: الله دې تاته برکت درکړي،یا یې وفرمایل ډیر ښه کار دې کړی.

۳۲- د ښځې او اولاد نفقه پر خاوند واجبه ده

عائشه رضي الله عنها روایت کوي چه: «أنَّ هنداً بنت عتبة قالت: يا رسول الله إنَّ أبا سفيان رجل شحيح، وليس يعطيني ما يكفيني وولدي إلاَّ ما أخذت منه وهو لا يعلم، فقال: خذي ما يكفيك وولدك بالمعروف» (متفق علیه).

ژباړه: د عتبه لور (هند) وویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوسفیان یو بخیل سړی دی، او ماته دومره شی چې د ځان او اولاد مې کفایت وربانديې وشي نه راکوي، مګر څه چې زه یې د هغه له مال څخه اخلم هغه ور باندې نه پوهیږی (په پټه یې اخلم)، رسول الله صلی الله علیه وسلم ور ته وفرمایل: هغه څه چې د تا او ستا د اولاد دپاره کفایت کوي او اسراف پکې نه وي واخله ولو که هغه وربانديې پوه نه شي (ځکه د ښځې او اولاد نفقه پر خاوند واجبه ده).

۳۳- د الله تعالی جوړکړي او پیدا کړی شی ته د ښایست او سینګار د پاره تغیرورکول حرام دي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت چې وایي: «لعن الله الواشمات والمستوشمات، والنامصات والمتنمصات، والمتفلجات للحسن المغيّرات خلق الله، ما لي لا ألعن من لعن النبي صلى الله عليه وسلم، وهو في كتاب الله:)وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا» (متفق علیه).

ژباړه: الله تعالی په خال لګونکو او خال لګولو مطالبه کونکو ښځو، او وروځو جوړونکو ښځو او غاښونو د ښایست د پاره تراش کونکو ښځو باندې لعنت کړی دی ځکه چې هغوی د

الله تعالى خلقت ورانوي، ددې آوريدو سره يوې ښځې ووېل: چه تاسې داسې ولې وائى، هغه ووېل: په چا باندې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت فرمايلى وي نو زه به په هغه باندې ولې لعنت نه وايم حال دا چې الله تعالى پخپل كتاب كې په صراحت سره فرمايلى دي. كوم څيز چې تاسې ته رسول الله صلى الله عليه وسلم دركړى هغه واخلئ او د كوم څيز نه يې چې تاسو منع كړئ ياست هغه نه منعه شئ.

۳۴- د تنګو جامو چې د بدن د فتنې ځايونه ورڅخه ښکاري، او نريو جامو چې بدن ورڅخه ښکاري، او لنډې جامې چې ټول بدن نه پټوي او ويښان د اوښ د بوكام په څير جوړول دا ټول حرام دي

أبوهريره رضي الله عنه روايت كوي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «صنفان من أهل النار لم أرهما: قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس، ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رؤوسهن كأسنمة البخت المائلة، لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها، وإنَّ ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا» (مسلم).

ژباړه: په دوزخ كې دوې ډلې داسې دي چې تر اوسه ما نه دي ليدلى يو هغه ډله چې د هغوى په لاسونو كې د (غوايي د لكى په شان) قمچينه وي چې په هغې سره دوى نور خلک وهي دوهمه ډله هغه ښځې دي چې جامو باوجود بربنډې وي چې خلكو ته به خپل مذموم حركات ښكاره كوي د هغوى سرونه به د اوښانو د بوكام په شان وي دوى به نه جنت ته داخليږي او نه د جنت خوشبوي له دومره دومره فاصلى څخه مومى.

۳۵- بې ضرورته د ويښتانو وصلول منع دي

«لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الواصلة والمستوصلة» (بخاري و مسلم)

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم لعنت ويلاى دي پر هغه ښځه چې له خپلو ويښتانو سره نور ويښتان پيوند كوي او همدا شان هغه ښځه چې دغه كار كوي د (الواصلة) څخه مطلب هغه ښځه ده چې خپل ويښتان له نورو ويښتانو سره پيوند كوي او د (المستوصلة) څخه مطلب هغه ښځه ده چې دغه د پيوند كولو كار تر سره كوي او يا په نن عصر كې آرايشگاه .

د لعنت او نفرت سبب يې دا دى چې دغه كار د فريب او دوكې يو ډول دى.

۳۶- جعل كاري او فريب په هرڅه كې منع دى

عائشه رضى الله عنها وايي-: «أنَّ امرأة قال: يا رسول الله أقول إنَّ زوجي أعطاني ما لم يعطني؟ فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: المتشبع بما لم يعط كلابس ثوبي زور» (متفق عليه).

ژباړه: يوې ښځې وويل يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! (د خاوند ښځې ته يا بنې ته مې وايم) خاوند مې ماته (دغه او هغه) را كړي حال دا چې په حقيقت كې يې څه نه وي راكړي (د بنې په مقابل كې د افتخار كولو كنايه ده)،رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ښكاره كوونكى د هغه څه چې ده ته نه وي وركړ شوي په شان د هغه كس دى چې د دروغو جامې يې اغوستې وي.

۳۷- د لوڼو او خويندو د تربيت اجر

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «من رُزق بناتٍ أو أخواتٍ فأحسن إليهِنَّ كُنَّ له ستراً من النار، و هكذا من مات له ثلاثة أفراط لم يبلغوا الحِنث كانوا له حِجَاباً من النار؛ قالوا يا رسول الله، واثنَان؟ قالو اثنان» (متفق عليه).

ژباړه: څوک چې لوڼې یا خوندې ولري او له هغوی سره نیک چلن وکړي هغوی ته به د دوزخ نه د نجات سبب شي،همدارنګه که چا دری بچیان چې بلوغ ته نه وي رسیدلی له لاسه ورکړي (وفات شي) د دوی د پاره به دغه بچیان د دوزخ مانع وګرځي، چا وویل یا رسول الله! که دوه وي، ويې فرمايل که دوه وي همدا اجر لري.

۳۸- د ښځې د پاره په نکریزو باندې د لاسونو او پښو رنګول جایز دي

له عائشه رضي الله عنها نه روايت دی چه: «أومت امرأة من وراء ستر بيدها كتاب إلى رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فقبض النبي -صلى الله عليه وسلم- يده، فقال: ما أدري أيد رجل أم يد امرأة قالت: بل امرأة، قال: لو كنت امرأة لغيّرت أظفارها، يعني بالحناء» (أبوداود والنسائي).

ژباړه: یوې ښځې د پردې د شا نه پخپل لاس سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لیک ورکړ،آنحضرت صلی الله علیه وسلم خپل لاس مبارک بیرته کړ او ويې فرمايل: زه نه پوهیږم چه آیا دغه لاس د نر دی او که د ښځې،ښځې وویل: د ښځې لاس دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې وفرمایل: که چیرې د ښځې لاس وی نو خپل نوکان به یې په حنا (نکریزو) رنګ کړی وای.

تشریح: ددې مبارک ارشاد څخه یو دا مطلب روښانه شو چه د ښځې د پاره د نکریزو استعمال جایز دی،او بل داچه د نوکانو رنګ ته اشاره یوه کنایه ده چه آیا د نارینه لاس به وي او که د ښځې د انحضرت صلی الله علیه وسلم عادت شریفه دا وه چې ښځو ته یې لاس نه ورکولو کله به یې چې له ښځو سره بیعت کولو نو د لاس په وسیله به نه وو بلکې د خبرې په وسیله به وو.

۳۹- ښځه به د نامحرمو خلکو نه مخ پټوي

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لا تنتقب المرأة المحرمة ولا تلبس القفازين» (البخاري).

ژباړه: ښځه به د احرام په وخت کې خپل مخ په نقاب نه پټوي او دسکش به نه په لاس کوي. (د احرام په وخت کې د مخ پټول نشته، نورو وختونو کې د مخ پټول له بیګانو خلکو په حجاب کې شامل دي)

په دې باره کې بی بی عایشه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا روایت نقل کړی دی:« کان الرکبان یمرون بنا ونحن مع رسول الله صلی الله علیه وسلم محرمات،فاذا حاذوا بنا أسدلت احدانا جلبابها من رآسها على وجهها، فاذا جاوزونا کشفناه» (رواه ابوداود ۱۸۳۳ و ابن ماجه ۲۹۳۵ و صحیحه ابن خزیمة ۴/۲۰۳).

ژباړه:عایشه رضی الله عنها وایي: مونږ په سورلیو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د حج د سفر لپاره روان وو کله به چې سرږي زمونږ له خوا څخه تیریدل مونږ به مخ پټولو او کله به چې هغوی له مونږ څخه لرې شول نو مونږ به مخ لوڅولو.

۴۰- د ښځې د پاره د ابریشمو جامې او د سروزرو استعمالول جایزدي

له أبو موسی الأشعري رضي الله عنه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «حرم لباس الحریر والذهب علی ذکور أمتي، وأحل لإناثهم» (أحمد والترمذي والنسائي).

ژباړه: زما د امت د نارینوو د پاره ابرشم او سره زر (طلا) حرام دي او ښځو د پاره جایز دي.

۴۱- ښځه به نامحرمو خلکو ته خپل سینګارنه ښکارکوي

له أبوهریره رضي الله عنه روایت دی چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «ویل للنساء من الأحمرین الذهب والمعصفر» (أخرجه ابن حبان والبیهقي في شعب الإیمان).

ژباړه: زیان او هلاکت دی هغو ښځو لره چې (دوه سره څیزونه) لکه: زیورات او خوشبویي بیګانه خلکو ته ښکاره کوي.

۴۲- د ښځې مشابهت کول په جامه،تلوراتلو او خبرو کې د نرسره حرام دی

عبدالله بن عباس رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لعن رسول الله -صلی الله علیه وسلم- المتشبهن من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال» (البخاري).

ژباړه: رسول صلی الله علیه وسلم لعنت فرمایلی په هغو ښځو چې د نارینه سره مشابهت کوي او په هغو سړیو چې له ښځو سره مشابهت کوي.

و ما توفیقي الا بالله علیه توکلت و الیه انیب

حمد الله شاکري